صلاح الدین سعیدی

۲۰۱۹/۰٤/۰۵

# د سولې خوب!

خوب مې لیده وطن کې سوله راغله

نور د پردو ټوپک مو وغورځاوه

ورور ته مو غیږه ورکړه

مینه کامیابه شوه د کرکې په ځای

چې په اړخ واوښتمه

ګورم چې دا یو ښکلی خوب وه زما

زما خوب څه چې دافغان ملت دا سوچ وه زما

ځان سره غلی شوم، خپه شومه زه

بیا مې قلم واخیست په فکر شومه

چې زما خوب، د ملت سوچ به

حقیقت شي کله ؟

نو سمد لاسه مې په جګ آواز

نــاره کـړه پـورته:

د بسم الله او توکل پـه بازو

د خپل ملت د ستر تکل په بازو

چي دا تقدير به بدلوو

د هوډ لاسونه به يو بل ته ورکوو

دا لر او بربه يو کوو

چي مو خوبونه او خيالات

په حقيقت بدل شي

وطن کي سوله راشي

دا ملت عزم ، اراده شي سره

افغانان ټول جرکه جرکه شي سره

د سولی خوب
Saidi_s_de_soley_khob.pdf